# د هند نومیالی شاعر او فیلسوف ټاګور

پر دنیا ډېري شپې او ورځي تېرېږي، پېړۍ پای ته رسیږي، نوي عصرونه راځي، انسانان مري او زیږي، قومونه لوړیږي او کښته کیږي.

په دې اوښتو او لوړو ژوروکي نومیالي خلك پیداکیږي، پیاوړي منځ ته راځي، غښتلي او پهلوانان نړۍ ته راوزي، چي د دنیا سرنوشت اړوي، علماء او پوهان ښکاره کیږي چي بشریت ته نوي لاري ښیي او په نوي ژوندون یې رووردوي.

دا علماء او پوهان او مشاهیر او غښتلي خلك د تاریخ پهلوانان دي او بشریت هیڅکله د دوی زیار نه هېروي !

که په ځیر وګورو د بشریت د لوړتیا اوکښته والي، د انسانانو د ژوند د تطور تاریخ هم د دې خلکو اعمال او افکار دي، دوی تاریخ جوړوي، او د دوی ویني اوکړني بشر لوړوي، او د انسانانو په ژوندون کي نوي تطورات اچوي !

که یو عالم د علم په دنیاکي نوې نظریه ځرګندوي، که یوکاشف نوی کشف کوي، که یو فیلسوف نوې فلسفه پلټي، که یو مفکر نوی فکر وړاندي کوي، که یو بریالی نوي فتوحات کوي، که یو شارع نوې لار خلکو ته ښیي، که یو منجي یوه اولس ته نجات ورکوي !

دا ټوله تاریخي مېړونه ګڼل کیږي، دا ټوله نوابغ دي، دا ټوله د بشر د تاریخ "روڼه ستوري" دي.

په دې ډله کي کله کله داسي خلك هم دنیا ته راځي چي د دوی اعمال او افکار بین البشري رنګ لري، د دوی زیار د ټولو انسانانو له پاره مشترك وي، دوی چي څه وایي، یا یې کوي د بشر له پاره یې کوي او د دوی اعمال او اقوال د یوه قوم، یوې ټولۍ، یوې جامعې له پاره نه وي.

داسي خلك بین المللي شهرت مومي، او د ټولو انسانانو په سترګوکي درانه او محترم وي.

د دوی تلقین عام وي، خبري یې د انسان له پاره وي، نه د یوې ټولۍ له پاره !

جغرافیایي وېشونه، او د رنګ او پوست بېلتون دوی له خپلي لوړي مفکورې څخه نه سي راکښته کولای !

د دوی "مینه" عمومي وي، انساني وي، تور، سپین، سور، ژړ دوی ته یو انسان ایسي، او د ټولو سره انساني مینه کوي ! داسي خلك د خپلو لوړو نظریاتو او روڼو افکارو په مرسته، د بشر په ژوندون کي نوي لاري او نوي مبادي اضافه کوي ! هغه مبادي چي دوی یې بنسټ ږدي او هغه افکار چي دوی یې بشر ته وړاندي کوي ډېر پیروان مومي او تر ډېره هغه افکار او مبادي پالي.

یو له دغو خلکو څخه چي زموږ په دې اوسني عصرکي ژوندی و، د هند مشهور او نومیالی فیلسوف او شاعر (ټاګور) دئ، چي دوې میاشتي دمخه په هندکي له دې نړۍ څخه ولاړ.

ټاګور په دنیاکي یو مشهور سړی و، په هره مځکه کي یې هر څوك پېژني، د ده شهرت یوازي د هند په خلکوکي نه و، بلکي اروپا او امریکا هم پېژاند او د هغو نومیالیو شاعرانو په ډله کي و چي دنیا د دوی ادبي عظمت منلی دئ.

ټاګور شرقي سړی و په شرق کي هم د هند و، په هندکي هم د بنګال دکلکتې و، په دې مادي لغوړنه دنیا کي دې شرقي نامتو ادیب هرکله دنیا ته د هغو روحاني خوندو او معنوي حظوظو پیغام ورکاوه چي په شرق کي

يې د هند له ګڼو ځنګلو، او بهاندو اوبو څخه ا لهام اخيست، ټاګور چي څه ليکلي دي، څه اشعار او بدلي چي ده پخپله بنګالي ژبه ويلي دي په ټولو کي د انساني ژوندون شريفانه احساس سته، د ده رمانونه ټوله انسان سپېڅلي ژوندون ته بيايي، پاك احساسات او شريف جذبات سره ښوروي، انسان ته دا ښيي چي څنګه بايد سړی خپل ځان پاك او سپېڅلی وساتي؟ څنګه بايد د وجدان هنداره د نفساني ککړتياوو څخه سپينه کړي؟ ښايي چي څنګه انسان بشپړ انسان وي؟

د ټاګور په رومانو کي به تاسي هيڅکله داسي خبره ونه مومئ چي د سړي شهواني احساسات وښوروي، د ده په رومان کي ککړه معاشقه، د ښځو سره د اروپا په ډول شهواني روابط او د عشق او ميني په نامه عفريتانه اعمال او حرکات نه ښوول کيږي.

د ده په رومانو کي سپېڅلتوب، پاکي، وجدان، صفوت، ښه اخلاق، پاکه مينه ښووله کيږي، د اجتما ع او ژوندون غټ غټ اسرار پکښې پټ وي، که د ميني او معاشقې بحث وي، هغه به هم خورا سپېڅلی او خوږ او پاك وي.

ټاګور د بنګال په يوه شريفه کورنۍ کي په (١٨٦١ ع) کال د مى پر (٦مه) وزيږېدی، پلار يې مهاراشي ديو ندرانات نومېدی، نيکه يې شهزاده و، ټاګور د زده کړي له پاره اروپا ته ولاړ، مګر د اروپا ژوندون، د دې شرقي مفکر پياوړی روح ځان ته تسليم نه کړ او ټاګور خپل شرقي کلك روح د اروپا په مانيو، او د عشرت ځايو کي ورك نه کړ.

که څه هم د اروپا پوهانو دا شرقي مفکر ښه وپېژاند، او په (١٩١٣ ع) کال يې په ادبياتو کي د نوبل جايزه هم ورکړه، مګر ټاګور خو شرقي فيلسوف و، ده هيڅکله خپل مخصوص فکر او خپله ځانته فلسفه او خپل شرقي مبادي له لاسه نه وايسته.

ټاګور د خپلي فلسفې او خپلو مخصوصو نظرياتو سره سم په (١٩٠١ ع) د کلکتې څخه (٩٣) ميله ليري په بالپور کي يوه مدرسه جوړه کړه، چي نوم يې (د روغي لوست ځی) و، په دې مدرسه کي ټاګور په يوه نوي ډول د کوچنوټو درس وضع کړ، چي تر اوسه دا نوې مدرسه د دنيا له مشهورو پوهنتونو څخه ده.

ټاګور ډېر کتابونه نه دي کښلي، د ده رومانونه او اشعار لږ دي، مګر هر کتاب يې ځانته د ډېرو کتابو سره ساری کېدای سي، د ټاګور اشعار اکثر په بنګالي ژبه دي، د ده شعر د موسيقۍ او نغمې سره نښتی دی، او دی هر کله خپل اشعار او بدلي په هغه ډول وايي، چي بايد په ګڼو ځنګلو کي د بهاندو رودو پر غاړه وغږول سي.

د ټاګور شعر خوشي بې خونده بدلي نه دي، دی موحد شاعر نه دئ، هر کله د يوه خاضع مريي په ډول د کايناتو په ننداره کي غرق دئ، دی ټوله حسن د قدرت د جمال مظهر ګڼي، او د مخلوق له ښايسته د خالق قدرت ورته ښکاريږي، مثلاً يو ځای وايي :

"هر چيري چي تا يو ښکلی مخ وليد، هر چيري چي دي يو خوږ غږ واورېد، هر ځای چي د يوه ښکلي بشر ننداري ستا صبر درڅخه يووی، هلته د خالق قدرت جلوه کوي، او ستا مينه د ده د قدرت پر ظهور شاهدي لولي".

ټاګور که څه هم شرقي او بيا هندی شاعر دئ، او د ده په ادب کي د تصوف او ويدانت رنګ ښکاريږي، او د هند فلسفه چي روحانيت يې پر ماديت غالب دئ، د ده په شعر او ادب کي ښه ځليږي، مګر دی په دې عصر کي خلك يوازي هغي خوا ته نه بولي بلکي د عملي ژوندون ښې لارښووني هم کوي او هغه حقايق پخپل شعر او بدلو کي ښکندوي چي د ژوندون مختلف اطراف او ګوټونه روښانه کوي، مثلاً ژوندون داسي ستايي :

"زه ژوندون ستايم، ژوند د يوه تاند نهال په ډول دئ چي شين او زرغون وي!

دا نهال په خورا تازه ګي له مځکي څخه راوزي او سر يې آسمان ته رسيږي، ريښې يې په مځکه ننوزي، د

دنیا خالق په دې نهال کې بدن او اروا پیدا کوي، ماده او وده دواړه سره یو ځای کوي، په دې ترکیب چمنونه ښکلي کوي، او جهان ښایسته کوي.

زه ژوندون ستایم، چې لکه غرکلك درېږي، او بیا په مواج بحر ګډېږي!

زه ژوندون ستایم، چې لکه د ګل تر پاڼې نازك او لطیف دئ او لکه ډېره کلك او کروړ هم دئ !!!".

په دې ډول ټاګور د ژوندون هره خوا ویني، او د انسان سعادت په هغه ژوندون کې ګڼي، چې هغه لکه ګل نازك وي، هم لکه تیره کلك !

تاسي وګورئ ! چې د انسان د هبوط او ارتقاء اسرار په څه شاعرانه ډول تصویر سوي دي؟

دلته د شرق او د هند روحاني فلسفه، د غرب د عملي او مادي فکره سره ګډېږي، او یو مرکب مفید معجون ځني جوړېږي، چې په رښتیا هم د اوسني عصر د مادي فسادو، او د مدنیت له ورانیو څخه جلوګیري کوي او هم د هند د سپېڅلي روحاني فلسفې تعدیل دئ.

په اوسنۍ دنیا کې موږ ګورو، چې د اروپا مادي مدنیت لوړې درجې ته رسېدلی دئ او هغه څوك چې اوس هم د روحاني دنیا ا لهامات او بږغونه په خلکو اروي، اوسني مادي انسانان یې نه اروي، مګر زموږ شرقي مفکر او اور ژبی شاعر پخپلو خوږو نغمو کې دا بږغونه په دنیا هم واروول، او د مدنیت په مادي لباس کې یې ښکلي د معنویت غمي کښېښول.

مستر یاټ چې د ټاګور د شعرکتاب "ګیتان جلي" یې په انګرېزي ژبه ترجمه کړی دئ، په دېباچه کې یې داسي لیکي :

"دا بدلې په ښکلو وقایو کې د خانمانو د میز رونق نه سي زیاتولای ولې چې دوی په سړو ګوتو د ګتابو پاڼې اړوي، او ساړه ساړه پر اوسېلي، او دغه نو د ژوندون نتیجه ګڼي !

دا کتاب د پوهنتونو زده کوونکي هم نه سي لوستلای ولې چې د دوی عملي ژوندون دوی دې ته اړ باسي چې دا کتاب پر رپ پاس کښېږدي !!!

مګر یو وخت به راسي چې دا بدلې به خلك پر لاري وایي، په بېړیو کې به یې ماڼګی په خواږه بږغ لولي، مېرمني به یې د مینانو په یادکې غېږوي، او د میني هغه چپن چې په دې بدلو کې ده دوی به نوي ځوانوي".

د مستر یاټ دا خبره ژر رشتیا سوه، ولي چې مادي اروپا هم د دې

شرقي شاعر او فیلسوف قدر وکی، او ده ته یې په ادبیاتو کې د نوبل جایزه وښندله !

د ټاګور اشعار هغه نغمې دي، چې د شاعر د زړه څخه راوزي، د مشرق شعراء د نل او نغمې سره ډېره مینه لري، مولانای روم په پېړیو دمخه د انسان فطرت د نل د بږغ په تمثیل څرګندکړی و :

کزنیستان تا مرا ببریده اند

از نفیرم مرد و زن نالیده اند

دا د بېلتون نفیر، او د جدایۍ کړوې او غلبلې د دردمن انسان سره هرکله یو ځای دي، او دا نارې غلبلې به وي څو مري، بیدل وایي :

نی کز ګفتکو خون شد نوای ساز من دارد

بهر جا خــــــامشی بینی زبان راز من دارد

زموږ ملي شاعر پیرمحمد کاکړ هم په دې کړوو او غلبلو کې داسي شرکت مومي :

بېلتانه په غم شریك کړم د غمجنو

د هــــــــر چا په غاړه ژاړم لـــــکه نی

ټاګور چې د خاورو په دنیا کې تل د لوړې دنیا سره راز او نیاز او خبري کوي د خپل ویرجن زړه د آرزو

ناتمامه هیله داسي په شعر کي ښکاره کوي :

"زما زړه غواړي چي ستا د نغمو او بدلو سره همنوا سي، د يوې نغمې له پاره تپيږي، زه تل ګڼه يم، خبري کوم، مګر زما خبري نه نغمه کيږي، نو ناچار او عاجز سم کرږي وهم".

لکه د ټاګور اشعار چي د يوې پاکي او سپېڅلي دنيا حکايت کوي دغسي د ده نور آثار او رومانونه هم قيمتي دي، د اجتماعي ژوندون ښېګڼې او اسرار ټوله د ده په آثارو کي سته، د ده يو ادبي شهکار "مېرمني او نړۍ" نوميږي دا ظاهراً يو حکايت دئ، مګر بې شمېره اسرار او حکم پکښي پټ دي.

ټاګور ديانت داسي ستايي چي : "ديانت لکه د لمر وړانګې د ټولو انسانانو پر شاوخوا ځليږي، او د دې د کشف له پاره ډېرو پلټنو ته هيڅ اړتيا نسته !".

د ټاګور آثار په اکثرو ژبو ترجمه سوي دي، د ده له اشعارو څخه ګيتان جلي، پروباهي ني، شيشو، پوروبي، بولاکا او نور ډېر مشهور دي، نوې مياشت، ښوال، ورك مرغه، زما فکرونه، کور او دنيا، د طوطي ښوونه، د مېوې ټولول او نور هم د ده ښه آثار دي، لکه زموږ ښاغلي ويونکي چي خبر دي د مشرق دا نامتو شاعر او فيلسوف او مشهور اديب د اسد پر (١٦) د عمر پر اتيايم کال په کلکته کي مړ سو، او دنيا ته يې خپل روښه افکار او خواږه اشعار پرېښوده ! اوس چي موږ له لوړو ابحاثو څخه د مشرق دا نوميالی شاعر و پېژاند نو لاندي د ده يو څو شعرونه په پښتو ترجمه کوو، چي ښاغلي ويونکي د ده شخصيت ښه وپيژني :

(١)

هلته چي خورا بې وزلي او خورا کښته او ډېر بېنوا خلك دي !
اې زما باداره ! ته د هغو مل يې !
هو ! ته د هغو سره يې چي تر ټولو بېوزلي او کښته او خواران دي !
کله چي غواړم تا ته سجده وکړم، نه پوهېږم زما سجده به تر کومه ځايه ورسيږي؟ او چيرته به پاته سي؟
هلته چي ته د خورا بېوزلو ملګری يې، زما سجده هلته نه رسيږي !
هو ! نه رسيږي هغه ځای ته چي ته د خورا کښتو او خورا بېوزلو او بېنوايانو مل يې !
زما د وياړ او غرور لار نسته هغه ځای ته !
هلته چي ته د بېنوايانو مل يې !
زما زړه هلته لار نه لري !
هو ! ته د هغو خلکو مل يې چي هيڅ نه لري، او تر ټولو کښته او بېوزلي دي !

(ګيتانجلي)

(٢)

هغه چي مي په زړه کي ځای لري، هغه غواړم !
دی دئ !
دی د شپې زما آسمان له ستورو او د ورځې مي ځنګلونه له ګلو راډکوي.
ځکه چي د لېمو کسي مي له ده څخه دي، نو په رڼا او تيارو کي تل ښکلي اشکال او انځورونه په وينم.
ځکه چي دی مي په ياد دئ !
نو مي د پسرلي ورمې د بدن هر وېښته پر نڅا راولي او نابېره د ده پيام زما بېخودانه نغمې له منځه راوزي !
له لومړي څخه تر پايه دی زما سره دئ، د ده په شوق او ذوق زما د ژوندون وختونه سرشار دي.

(پروباهي ني)

(۳)

هغه پټ راز چي زما په زړه کي دئ، زما نل په هغه خبر دئ !
هغه راز زما په زړه کي پټ و !
چا ته مي ښکاره نه کړ !
ببله دې چي د خپل نل په غوږ کي مي وغږاوه !
په هغه توره شپه کي خوب نه راتی !
ستوري مي شمېرل چي شپه تېره سوه !
هيڅوك مي شاوخوا ته ويښ نه وه !
بې له هغه نله، چي پخپلو نغمو مي ويښ کړی و[۱] !

(پروباهي ني)

---

[۱]) کابل مجله، ۱۳۲۰ش کال، ۷ مه گڼه، ۲ - ٦ مخونه.